# اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به: سهار مهال (دا اذکار) ويېل: «اللهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» وَإِذَا أَمْسَى قَالَ: «بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُورُ» قَالَ: وَمَرَّةً أُخْرَى: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ». يا الله! ستا په نعمتونو او واکمنۍ کې مو سهار کړ او ستا په نعمتونو او واکمنۍ کې مو ببېګا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو او (له مرګ نه وروسته ستا لور ته) بیا پاڅېدل دي، وایې او بل ځل یې وویل: «وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ» او ستا په لور وروستی منزل دی.

[حسن] [ابو داود، الترمذي او النسائي په الكبرى کې او ابن ماجه روايت کړی دی]

کله به چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم سهار شو؛ چې هغه د سهار له راختو سره د ورځې پېل دی نو وییل به یې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا) یا الله پر تا مو سبا کړ، یعنې ستا په ساتنه او ستا په نعمت کې ډوب یو، ستا په یادولو بوخت یو، ستا پر نوم مرسته غواړو، ستا په نعمتونو کې شامل یو، ستا په مرسته او ځواک حرکت کوونکي یو، (وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ) (او پر تا مو ببېګا کړ او پر تا ژوندي کېږو او پر تا مرو) د دې جملې معنی هم لکه د تېرې په څېر ده، سر بېره پر دې چې ببېګا مهال به یې وییل: یا الله ستا پر نوم مو ببېګا کړ، نو ستا په محیی (ژوند بښونکي) نوم سره ژوندي کېږو، او ستا په (الممیت) یعنې مرګ ورکوونکي نوم سره مړه کېږو. (وَإِلَيْكَ النُّشُورُ) او ستا لور ته له مرګ نه وروسته پورته کېدل دي، او له یو ځای کېدو وروسته جلا کېدل دي، زموږ دا حالات به په ټولو وختونو کې په همدې توګه مخته ځي او په هېڅ حال به ترې جلا نه شم او نه به یې پرېږدم. او کله چې پرې له مازدیګر نه وروسته ببېګا مهال راغی وییل به یې: (اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وبكَ أصبحنا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ المَصِيْر) یا الله! ستا په نوم مو ببېګا کړ او ستا په نوم مو سبا کړ، ستا په نوم ژوندي کېږو او ستا په نوم مړه کېږو، او له مرګ نه وروسته ستا لور ته بېرته پورته کېدل دي، په دنیا کې بېرته ستنېدل او په اخرت کې بېرته درګرځېدل دي، نو همدا ته یې چې ژوند راکوې او همدا ته یې چې مرګ راکوې.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5490

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee